Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

*ISSN: 2584-0975 (Online)*

*Vol.02(02), May 2024, pp, 19-24*

*Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe*

*Research article*

# The influence of Psychology on linguistics

# پر ژبپوهنه د ارواپوهنې اغېز

*Shah Mahmoud Kadwal*

*Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Literature and Humanities, Laghman University, Afghanistan*

شاه محمود کډوال

پښتو څانګه، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون، افغانستان

ARTICLE INFO

***Keywords:***

Language, Psyche, linguistics, psychology, Psycholinguistics

**کلیدي ویيونه :** ژبه، اروا، ژبپوهنه، اروا‌پوهنه، ژباروا‌پوهنه

***Article History:***

Received: 11-02-2024
Accepted: 10-05-2024
Published: 15-05-2024

***Cite this Article:***

Kadwal, S. M. (2024). The influence of Psychology on linguistics: پر ژبپوهنه د اروا‌پوهنې اغېز. *Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English*, 2(2), 19–24. https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.311

ABSTRACT

Language is not a dry physical Phenomenon, but has a mental basis. Any Phonemes that come out of the mouth have meaning and the meaning is in the mind. If there was no mental aspect of language, then the sounds would only be a physical Phenomenon, like other sounds that we hear, which only enter our brains through the ears as a physical Phenomenon, but have no meaning and in the mind. It does not create any image or concept, such as the sounds of airplanes, cars and thunder. That language has meaning, meaning is related to Psychology, thus language and Psychology are connected and both enter into each other, so linguistics and Psychology merge into each other and create a branch called Psycholinguistics. Language is a representative of the psychological movements and actions of a person from the beginning to the end. It starts when the vocal organs of the little one become capable of producing sounds and sending their emotional requests to others through sounds (Phonemes). If we come to the background of ideas about different aspects of life in civil history, then these ideas are very new, which connect linguistics and psychology.

**لنډیز**

ژبه یوه وچه مادي ښکارنده نه ده، بلکې ذهني بنسټ لري. کوم اوازونه، چې له خولې راوځي مانا لري او مانا په ذهن کې وي. که د ژبې مانیز اړخ نه وای، بیا به اوازونه یواځې فزیکي ښکارنده وه، لکه نور غږونه، چې موږ یې اورو، چې یواځې د فزیکي ښکارندې په توګه د غوږو له لارې زموږ مغزو ته ننوځي، خو کومه مانا نه لري او په ذهن کې کوم تصویر او مفهوم نه رامنځته کوي، لکه د الوتکې، موټر او تندر غږونه. دا چې ژبه مانا لري، مانا په اروا پورې تړلې، په دې توګه ژبه او اروا سره تړل کېږي او دواړه په یو بل کې ننوځي، همداسې ژبپوهنه او اروا‌پوهنه په یو بل کې ورګډېږي او د ژباروا‌پوهنې (Psycholinguistics) په نوم یوه څانګه رامنځته کوي. ژبه د یوه وګړي په وجود کې له پیله تر پایه د اروایي خوځښتونو او کړنو استازې او هېنداره ده. دا هغه وخت پیلېږي، چې د کوچني غړیز غړي د دې جوګه شي، چې اوازونه وزېږوي او د اوازونو په وسیله خپلې اروایي غوښتنې نورو ته ولېږدوي. که په وګړني تاریخ کې د ژوند د بېلابېلو اړخونو په اړه د نظرونو شالید ته ورشو، نو دا نظرونه پکې بیخي نوي دي، چې ژبپوهنه او اروا‌پوهنه سره تړي، دې موضوع ته ډېر وروسته پام شو، خو په لنډ وخت کې ډېره ارزښتناکه او پراخه شوه.

**سریزه**

پر ژبپوهنه د اروا‌پوهنې اغېز نه موخه د (Psycholinguistics) منځپانګه او بحثونه دي، چې پښتو کې یې (ژباروا‌پوهنه، ژبساپوهنه، اروا‌پوهنیزه ژبپوهنه، د ژبې اروا‌پوهنه او...) بولي. لکه وړاندې چې مو وویل، دا څانګه د ژبې او اروا پر اړیکو غږېږي یا د ژبې او اروا ګډ اړخونه څېړي.

اروا‌پوهنه د انسان د بهرنیو یا فزیکي چلنونو په وسیله دننیو اروایي خوځښتونو ته ورننوځي، په دې چلنونو کې یو یې ژبه او ژبنی فعالیت دی چې مادي، فزیکي او غریزه بڼه لري. دا مادي،

**Corresponding Author*:
Email: sd.kadwal[at]lu.edu.af (*S. M. Kadwal)*

https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.311

© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

فزيکي او غريزه بڼه د انسان د ذهني فعاليت ښکارندويه، څرګندويه او څېرندويه ده.

ژبه له مانا پرته هېڅ ده يا يواځې يو مادي وجود او غږونه دي. همدا مانا او د ژبې تر شا ارواييي فعاليت دی چې ژبه د پوهونې او راپوهونې وسيله کوي او د وګړو ترمنځ اړيکې ټينګوي. ژبه د ماناوو او مفاهيمو يوه ستره زېرمه ده، دا ماناوې او مفاهيم په ذهن کې وي، چې غږونه يا اوازونه يې بهر راوباسي. په دې توګه بهرنۍ ژبه (غريزه بڼه) د دننۍ ژبې (ذهني) پر بنسټ فعاليت کوي او پر دننۍ ژبې پوهېدل د ارواپوهنې کار او دنده ده.

## د څېړنې ارزښت

ژبه د مادي او غريز اړخ ترڅنګ مهم ارواييي اړخ لري چې پوهېدنه پرې ارزښتناکه او مهمه ده. دا څېړنه پر همداسې مهمې موضوع چورلي، چې د ژبپوهنې او ارواپوهنې پر ګډو اړخونو رڼا اچوي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د ژبې او اروا يا د ژبپوهنې او ارواپوهنې ګډ اړخونه څرګند کړي يا د يادو دوو پوهنو ترمنځ پر اړيکو رڼا واچوي.

## تېرو څېړنو ته کتنه

لکه وړاندې چې يادونه وشوه، د وګړنې تاريخ نورو څېړنو ته په پام د ژبې ارواييي يا ذهني اړخ ته پاملرنه، يوه نوې موضوع ده چې د نړيوالو ورته پام شوی او په دې برخه کې يې په لنډ وخت کې پراخې څېړنې کړې دي. په پښتو ژبه کې بيا دا ډول څېړنې بيخي نوې دي او پراخ کار ته اړتيا لري. په دې اړه نورو ډېرو څېړونکو هم کار کړی چې له ځينو يې دلته ګټه اخيستل شوې ده. دا څېړنه له تېرو نه په ګټنه نوښت لري.

## مواد و کړنلاره

د دې څېړنې له پاره له شته باوري، په ځانګړې توګه برېښنايي سرچينو ګټه اخيستل شوې ده. د څېړنې ډول يې کتابتوني او مېتود يې تشريحي ـ توصيفي دی.

## اصلي موضوع

پر ژبه او بيا ژبپوهنه د اروا او ارواپوهنې اغېز له هغه وخته څرګند وي چې کله کوچنی پر خبرو راځي يا که د کوچني ژبه له هغه وخته تر کتنې لاندې ونيسو چې ګړېږي، ګړېدا يې د ارواييي خوځښتونو استازيتوب کوي يا يې ژبه د اروا هېنداره وي.

ډېر ملايان او مولويان خپلې ويناوې ځکه موزونې کوي، چې موزون کلام پر اورېدونکي ښه اغېز کوي. څرګنده ده چې په دغه وخت کې د ويناوال احساسات هرڅومره پارند او په ځوښ کې وي، د اورېدونکي پر هغو ښه اغېز کوي او هغه هم له ځان سره راپاروي. له تخنيکي او فزيکي اړخه موزونه يا درنه وينا هغه ده چې د عادي په پرتله پکې ژبنی فشار لوړ او غځېدونکي اوازونه غځېږي او اوږدېږي. که دغه ډول وينا ثبت او بيا يې وزن وکتل شي، تر عادي درنه وي.

پر ژبه د ارواييي اغېزو د پوهېدو له پاره که يو سندرغاړی تر څېړنې لاندې ونيسو چې ولې يې غږ تر عادي هغو پر انسان ځانګړی اغېز کوي، لامل يې دا دی چې د سندرې د ويلو پر وخت د سندرغاړي احساسات پارند وي. د سندرغاړي د پارندو احساساتو په پايله کې د غږ مادي بڼه هم اوړي. لکه خپلواک اوازونه چې غږن او سندريز دي، لاپسې سندريز شي. د دې ترڅنګ د بېواکو غږنو اوازونو څرنګوالی هم اوړي، په دې توګه ټول غږيز بهير يوه ځانګړې بڼه غوره کوي. همدارنګه که دوه وګړي په پام ونيسو چې يو يې په غوسه او کرکجنو احساساتو کې غږېږي، د اوازونو زېرد، اهنګ او نورې نازنځيري ځانګړنې به يې يو ډول وي، خو که يو بل وګړي ته پام وکړو چې عادي او هوسا غږېږي، د هغه د اوازونو زېرد او نورې غږيزې ځانګړنې به بل ډول وي؛ کله چې څوک احساساتي شي، نو د سا د هوا بهير يې هم له هوسا يا عادي حالت نه ناهوسا يا ناعادي شي، بيا نو د هغو ټولو غږو حالت هم واوړي چې غږيز زېرد پر غاړه لري. په دې ډول له ارواييي ـ ذهني او مانيز کيفيت سره غږيز او مادي هغه هم همغږی شي. دلته دا يادونه هم په کار ده، چې ځينې نور غږونه هم د انسان پر اروا اغېز کوي. لکه د شپېلۍ، د دې لامل دا وي، چې په شپېلۍ کې يوه داسې سندره يا شعر غږيزي چې هغه اورېدونکي له وړاندې اورېدلې وي، هغه او د شپېلۍ غږ دواړه يوځای کېږي او پر اورېدونکي اغېز کوي. د طبيعت ډېر غږونه د انسان پر اروا اغېز لري، که څه هم هغه ژبني نه وي. لکه د مرغيو غږونه، لامل يې دا وي چې دا غږونه هم موزون او سندريز وي، خو تر شا يې وګړنۍ ذهن او مانا نه وي. دا غږونه ځکه د انسان پر اروا اغېز کوي چې موزون او سندريز وي او غږونه چې کله دغه ځانګړنه خپله کړي، پر وګړنۍ اروا اغېز کوي.

د هغو غږونه پر موږ ښه لګېږي چې خوښېږي مو یا راته ګران وي. لکه پلار، مور او نور او د هغو راباندې بد لګېږي چې بد مو راځي او دا د ښو او بدو غږونو توپیر زموږ اروا کوي. که لنډه یې ووایو ژبه د وګړو ترمنځ اروايي اړیکي ټینګوي.

ژبه د انسان د اروا یا ذهني خوځښتونو هېنداره ده. د انسان اروايي کړه وړه د ژبې له لارې ځرګندېږي. که یو نالوستی انسان په پام کې ونیسو چې د ژوند ساده مسایل یې په ذهن کې دي، ساده غږېږي، یوستوې کلمې او جملې کاروي، بېلابېلې فلسفي او علمي نومونې نه کاروي، خو که یو لوستی انسان په پام کې ونیسو، غځېدلې، کړکیچنې (بېلښتي او ترېښتي) کلمې او جملې کاروي، بېلابېلې فلسفي او علمي نومونې کاروي، ځکه هر څوک هغه څه پر ژبه راوړي چې په ذهن کې یې وي. که د پښتو ژبې د دوو لیکوالو ژبه په پام کې ونیسو، د دواړو اروايي رغښت راته ځرګندوي. لکه د پوهاند زیار او استاد غضنفر لیکنې سره پرتله کړو، د دواړو په لیکنو کې د کلمو او جملو کارونه راته د دوی اروايي رغښت هم ښيي. په دې ډول که د دین، رنځپوهنې، تاریخ، فزیک او نورو پوهنو ځانګوال او پوهان سره پرتله کړو؛ هغه څه پر ژبه وايي چې په ذهن کې یې وي. په همدې ډول که موږ د شعر ژبه په پام کې ونیسو، د عادي ژبې په پرتله ځکه پر موږ اغېز کوي چې د شعر د ژبې تر شا په اروا کې خیال، عاطفه او نور وي، هغه چې د ریاضي، فزیک او تاریخ په ژبه کې نه وي.

«واده» یوه کلمه ده چې یو مفهوم لري، دا کلمه چې له نورو کلمو سره یوځای شي، جمله جوړوي چې د یوې پېښې یا حالت بیان کوي او یوه کلي مانا لري.

کلمه د ژبپوهنې له مخې وییز واحد دی چې تر ځان په ښکته پوړ کې له مورفیمونو جوړه ده او تر ځان په لوړ پوړ کې له نورو مورفیمونو او کلمو سره غونډېونه جوړوي.

د کلمې په توګه «واده» یو رواني واحد دی. د رواني واحد مانا دا ده چې مفهوم لري او په ذهن کې د ښادۍ د مراسمو تصور جوړوي. دا مفهوم په ذهني میکانیزم کې له نورو مفاهیمو سره نږدې او لرې اړیکی لري او د همدې اړیکې پر بنسټ یې مفهوم مشخصېږي. ساز سرود، خوږه، ناوې، مېره او داسې نور هغه مفاهیم دي چې له واده سره د مجاورت د اړیکي پر بنسټ د انسان په ذهن کې یوه ټولۍ جوړوي. د واده په اړه د خلکو عواطف هم په دې کلمه کې راځرګندېږي. د ژبې نورې کلمې هم داسې دي. د «واده» بېلګه راته د ژبې او روان ترمنځ اړیکی ښيي.

د واده په بېلګه کې وینو چې د ژبې مطالعه له روان سره او د روان مطالعه بې له ژبې نیمګړې ده. د انسان روان او چلن د اوراپوهنې او ژبه د ژبپوهنې موضوع ده. د انسان د ادراک سیستم او شعور او لاشعور ته مهمه لار د ژبې ورغلې ده چې له اروایوهنې سره د انسان د روان په پوهېدو کې مرسته کوي. فروید د انسان پر لاشعور د ناروغ له خبرو پوهېده او ژاک لکان وايي چې د فروید لاشعور هماغه د سوسور لانګ (ژبه) ده، بلکې وروستیو ژبپوهانو خو د شعور او فردي او ټولیز لاشعور مفاهیم د ژبې یوه لوبه وګڼله چې له نورو مفاهیمو سره په اړیکی کې خپله مانا ځرګندوي. د یونګ د ټولیز لاشعور لرغونبېلګه (ارکیټایپ) هم یو ژبنی مفهوم دی. په دې ډول د ژبپوهنې او اروایوهنې ترمنځ نږدې اړیکي وینو. ژبپوهنه له اروایوهنې سره د روان او اروایوهنه له ژبپوهنې سره د ژبې په شننه کې مرسته کوي. اروایوهنیزه ژبپوهنه (Psycholinguistics) د اروایوهنې په مرسته پر ژبپوهنه خبرې کوي. یوه بېلګه یې د ادراکي اروایوهنې په مرسته د ګډځانګیز مېتود پر مټ د ژبې، بدن، او ادراک پر تړاو او د انسان په ذهن کې د ژبني نظام پر جال د ادراکي ژبپوهنې بحث دی. ادراکي ژبپوهنه له ادراکي اروایوهنې نه مرسته غواړي. د ژبې اروایوهنه بیا د ژبې په مرسته پر اروایوهنه بحث کوي او د انسان پر روان د ژبې پر اغېز غږېږي (شکلی، ۱۴۰۱، مخونه۳۴ـ۳۵).

د ژباروایوهنې ځانګه د ژبزده‌کړې او ژبکارونې او داسې نورې مسئلې د رواني پېښو له مخې څېړي (زیار، ۱۳۸۲، مخ ۳۱).

ځنګه کولی شو په ژبه وګړېږو او پوه شو، کوچنیان دا مهارتونه ځنګه ترلاسه کوي او ماغزه یې ځنګه ملا تړې؟

تر دوو پېړیو ډېرې وشوې چې اروايي ژبني مسایل تر څېړنو لاندې دي. که څه هم ډېر ژباروایوهان لیواله دي چې د ژباروایوهنې تاریخ د (۱۹۵۰/ ۱۹۶۰) لسیزې په وروستیو کې د چامسکي له «ادراکي اوښتون» سره پیل کړي. د تجربوي ژباروایوهنې تاریخ په حقیقت کې د اتلسمې پېړۍ پای ته ورګرځي. ژباروایوهنه ځلور تاریخي ریښې لري چې د نولسمې پېړۍ په پای کې یوځای شوې دي. په هغه وخت کې دا ځانګه چې معمولا د ژبې اروایوهنه بلل کېده، تاسیس شوه. لومړۍ ریښه پرتلیزه ژبپوهنه وه چې د ژبې د اروايي سرچینې مسئله یې راپورته کړه. دویمه په مغزو کې د فرانزګال (Franz Gall) په مشرۍ د ژبې مطالعه وه چې د بروکا او ورنیکا کشفونه یې مهمې نښې وې. درېیمه ریښه د ماشوم د ودې له پاره د ورځینو یادښتونو مېتود و

چې له روسو (Rousseau) راځرګند شو. څلورمه ریښه د ویناییز او ژبني فعالیت له پاره تجربوي لابراتواري مېتود و چې د فرانسسکوډونډرز (Franciscus Donders) له ذهني مهالمېچ (Chronometry) څخه سرچینه اخلي. ویلهیلم‌ووونټ ( Wilhelm Wundt) پر (۱۹۰۰م) کال دا څلور مېتودونه سره یوځای کړل. د ژباروایوهنې دا څلور لیدونه په بېلابېلو چوکاټونو کې تر شلمې پیړۍ پورې وغځېدل (Levelt, 2012).

د ژبپوهنې او اروایوهنې ترمنځ د اړیکو مطالعه شلمې پیړۍ ته ورګرځي، هغه وخت چې دواړو د ساینسي څانګو په توګه پرمختګ وکړ. په هر صورت، په پیل کې د فردیناندديسوسور او لیونارډبلومفیلډ په څېر ژبپوهانو په ابتدايي توګه د ژبې د رغښت په صوري شننې تمرکز وکړ. بیا د شلمې پیړۍ د نیمایي په وروستیو کې ژباروایوهنه راځرګنده او په ذهن کې د ژبني فعالیت او منځته راتګ په اړه وغړېده. په (۱۹۵۰ او ۱۹۶۰م) لسیزو کې د یادو دوو سترو څانګو ترمنځ اړیکې د ژان‌پیاګه (Jean Piaget) او جیروم‌برونر (Jerome Bruner) په څېر ادراکي اروایوهانو په څېړنو سره خورا ټینګ شول. له هغه وخت راهیسې ژبپوهنه او اروایوهنه لا پیاوړي شوي دي. ژبپوهنه د ژبې پر رغښت او ځانګړنو د پوهیدو له پاره یو چوکاټ چمتو کوي، په داسې حال کې چې اروایوهنه د ژبې د فعالیت، ترلاسې او کارونې د څرنګوالي په اړه پوهه وړاندې کوي (Li, 2023).

ژباروایوهنه یا د ژبې اروایوهنه د ژبنیو لاملونو او اروايي اړخونو ترمنځ د متقابلو خپل‌منځي اړیکو مطالعه ده. دا څانګه په ټوله کې له هغو جوړښتونو سره تړلې چې ژبه د هغې په وسیله په ذهن او مغزو کې کار کوي او راځرګندېږي؛ دا هغه اروايي، عصبي او بیولوژیکي لاملونه دي چې انسان ته د ژبې د لاسته راوړلو، ګټنې، درک او تولید وړتیا ورکوي.

د ژبې اروایوهنه د ادراکي ذهني ځواک له چارو سره تړلې چې د ژبې د ګرامري جوړښتونو د تولید له پاره اړینه ده. همدارنګه د اورېدونکي په وسیله د دې جوړښتونو له درک سره سر و کار لري.

د ژبې په اروایوهنه کې لومړنۍ هڅې په فلسفي او ښوونیزو په ټوله کې د دوی د موقعیت له امله له عملي علومو پرته په نورو څانګو کې وې (د مثال په توګه: د انسان د مغزو په اړه سره تړلې معلومات چې څنګه کار کوي). اوسنۍ څېړنه د بیولوژۍ، عصبي ساینس، ادراکي ساینس، ژبپوهنې او معلوماتي ساینس څخه کار اخلي چې په ذهن و مغزو کې د ژبې فعالیت وڅېړي. په دې برخه کې د ټولنیزو علومو له پېژندل شویو پروسو، انساني پرمختګ، ارتباطي تیوریو او د ماشوم د ودې او نورو څخه لړه ګټه اخیستل کېږي. د مغزو د نیورولوژیکي چارو د څېړلو له پاره د داسې تخنیکونو فرعي دسپلینونه شته چې بدن پکې نه څېرې کېږي. د مثال په توګه: وژژبپوهنه (د عصابو ژبپوهنه) په ځانې توګه پر یوه ځانګه اوښتې او پرمختیايي ژباروایوهنه، د ژباروایوهنې د یوې ځانګې په توګه، د ژبې په زده کړه کې د کوچنې پر وړتیا غږېږي (*Wikipedia contributors, 2024*).

که اروایوهنه د انسانانو کړنې څېړي، نو د ژبې د کړنو څېړل یې هغه برخه ده چې له ژبپوهنې سره پکې یوځای کېږي.

ژبپوهنه شوې خبرې، د خبرو څرنګوالی او د اورېدونکي غوږونو ته د خبرو پر رسېدلو بحث کوي. تر دې مخکې او وروسته عقلي عملیاتو سره یې کار نه شته. اروایوهنه بیا له شوو خبرو مخکې او د اورېدونکي تر غوږونو د خبرو تر رسېدلو وروسته پړاوونه څېړلو دنده لري. په دې وروستیو کې ځینو څېړونکو ژبه له دې دواړو خواو وڅېړله، یانې ژبه یې یواځې د یوې کړنې او یا د یو جوړښت په توګه ونه څېړله، بلکې د جوړښت او ذهني پړاوونو په پام کې نیولو سره یې وڅېړله. همدا څېړنې د دې لامل شوې چې د ژباروایوهنې په نوم یوه نوې څانګه رامنځته شي.

ژباروایوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د ژبې او ذهن اړیکې څېړي. یانې یوه ژبه څه ډول زده کېږي، خبرې څه ډول جوړېږي او خلک څنګه پر خبرو پوهېږي، اړیکې څنګه رامنځته کېږي؟

هر وګړی له بل وګړي سره د مورنۍ ژبې په کارولو کې توپیر لري. دا توپیرونه د ویې‌زېرمې، د وییونو د رایادولو، د مفاهیمو له پاره د مناسبې اصطلاح موندلو، لوستلو، لیکلو، اورېدلو، د ژبنیو اطلاعاتو څېړلو او نورو ذهني فعالیتونو په برخه کې وي. ژباروایوهنه همدا څېړي چې دغه توپیرونه له کومې کېږي. اروایوهان دې پایلې ته رسېدلي چې هوښیاري ځان ته پدیده نه ده، بلکې له بېلابېلو وړتیاوو څخه رغېدلې پدیده ده چې د ژبې ونډه پکې هېرېدلی نه شي. اروایوه ترستون ژبنۍ وړتیا د هوښیارتیا اړونده پدیده ګڼي چې نږدې ټولمنلې تیوري ګڼل کېږي، ځکه خو د هوښیارتیا په زیاترو ازمېښتونو کې داسې پوښتنې کېږي چې ژبنۍ وړتیا پکې وتلل شي. اروایوهنیزه ژبپوهنه همدا هم څېړي چې ژبه پر فکر او فکر پر ژبې څومره اغېز کوي. د ژبې زده کول

خومره فطري دي او تر کومي کچي زده کېدی شي (*اروا,* 2020 *پوهنیزه ژبپوهنه – رغون*)

د ژبې او ارواپوهنې ترمنځ اړيکې

د ژبې او ارواپوهنې تړاو راښيي چې څنګه موږ، د انسانانو په توګه ژبه کاروو، همدارنګه دا راښيي چې موږ څنګه پر ژبه پوهيږو، څنګه ژبني توکي زېږي او موږ پرې پوهه ترلاسه کوو؟ الفاظ مخامخ پر انساني روان اغېز پرېباسي او د يوې ځانګړې ژبې کارول کولی شي يو چا ته بېلابېل احساسات ورکړي. ځينې کلمې زموږ خوښوي او ښه احساس را کوي، خو ځينې الفاظ مو خپه کوي. ژبه د انساني ژوند د تجربو، عقيدو او باورونو په نتيجه کې په خپل تخنيک سره پنځېږي. زموږ ذهن ته رسېدونکي الفاظ ذهن ارزوي، موږ تون يا لهجې ته غوږ نيسو يا يې لولو، د خبرو کوونکي مزاج ګورو، د کلمو پر مانا فکر کوو او غوره کوو يې، ظاهري څېرې ته ګورو چې زموږ پر وړاندې يې غبرګون څه دی؟

له يو مشر رنځپوه مې اورېدلي وو چې يو ډېر مشهور رنځپوه، د اسلامي علومو يو پوه ته وويل: زموږ ټول طبابت دې خراب کړی، زه په ډېر زيار درمل جوړ کړم، خو ناروغان چې تا ته درشي، يو چف پرې وکړې، ښه شي، بيا ما ته نه راځي. هغه ورته وويل: غلی شه! رنځپوه خاموش شو غږ يې ونه کړ، مولانا ورته وويل: څنګه مې په يوه تېزه خبره غلی کړې، دا يوه تشه خبره وه، زه خو يې د الله تعالی په کلام دموم. يو مشهوره خبره ده چې «د ټوپک ټپ رغېږي، خو د ژبې پرهر نه رغېږي» يا ويل کېږي چې «بده خبره سل کاله عمر لري». ژبه ښايي موږ فکر کولو ته اړ نه باسي، خو د ژبې د الفاظو کارول مو پر ذهنيت اغېز پرېباسي، د مانچستر په پوهنتون کې د ژبپوهنې او کلتورونو د ځانګې څېړونکي (ګی ډوشر) په باور «که مختلفې ژبې زموږ پر ذهنونو په بېلابېلو لارو اغېزه کوي، دا د دې له امله نه ده، چې زموږ ژبه موږ ته د فکر کولو اجازه راکوي، بلکې د هغه څه له امله ده چې دا عادت موږ مجبوروي چې فکر وکړو «یانې د الفاظو اورېدل مو فکر کولو او غبرګون ته هڅوي (*Miakhil,* 2024).

ژبساپوهنه يا ژباروارپوهنه ارواييي او وژـژوندپوهنيز (نيوربيولوژيکي) لاملونه څېړي چې انسان ته د ژبې د ترلاسي، کارولو، پوهولو او زېږولو وړتيا ورکوي (کډوال، ۱۴۰۰، مخ۱۱۴).

ژباروارپوهنه هغه څانګه ده چې د ارواييي چارو څېړنه او سپړنه کوي چې انسان د هغو په وسيله پر ژبه لاسبرې کېدی او ګټه ترې اخيستی شي. ارواپوهان د هر عمر لرونکو وګړو د ژبني درک او توليد خرنګوالی، همدارنګه ګړنی او ژبنی وده څېړي. نوموړې ځانګه د ژبپوهنې پر بنسټ ژبه سپړي او ژبپوهنه هغه ځانګه ده، چې د ژبې جوړښت سپړي. که څه هم د ژبې ترلاسی، درک او توليد د ژباروارپوهنې د څېړنې اصلي برخه وه، خو دا ځانګه له پيل راهيسې پام وړ پراخه شوې ده. اوس ژباروارپوهانو ته د ژبني فعاليت وژپوهنه (Neurology) پام وړ ده، په ځانګړې توګه هغو ته چې جنسي توپيرونه، ژبغړاندې، د نابالغو مغزو او د ژبنی ودې نيمګړتيا له زېږون يا اکتسابي زيان وروسته څېړي. ځينو ژباروارپوهانو دې ته زړه ښه کړی، چې پر ناانساني ژبزده‌کړې، د بېلګې په توګه پر ګوريلا، چيمپنزې او نورو ازمېښت وکړي چې څرګنده کړي ژبه لکه څرنګه چې يې موږ پېژنو، يواځې انساني پديده ده که نه؟ (Ratner & Gleason, 2004).

ژباروارپوهنه د ژبې د درک او توليد د ښځنبا د ادراکي پروسې او پر دې پروسو باندې د کلتوري چاپېريال اغېزه څېړي. دا د لومړنی يا بنسټيزې ژبې د فعاليت ذهني جوړښتونه او پر ذهني جوړښتونو د ژبې او ليکنې سيستم اغېزې څېړي. ژباروارپوهنه يوه ګډه ځانګه ده چې ارواپوهنه، ژبپوهنه او ادراکي ساينس د بېلګو د پراختيا په موخه سره يوځای کوي چې د ځانګړې ژبني چلن تشريح او وړاندوينه کوي. دا د ارواپوهنې او ژبپوهنې د ناستې، ترون او يوځای کېدو ځای دی چې ژبه د پام وړ او کړکېچن چلن دی چې د انسان ځانګړتيا ده *(Typeset N.D.)*.

## پایله

تېرو کرښو او څېړنې څرګنده کړه، چې ژبه له اروا سره تړلې ده يا ژبه د انسان د اروا استازې او هنداره ده چې د ژبپوهنې او ارواپوهنې په يوې ګډې ځانګې (ژباروارپوهنې) کې پرې بحث کېږي.

په دې څېړنې کې ښکاره شوه، چې ژبه د اروا تر اغېز لاندې ده يا ارواپوهنه پر ژبپوهنه اغېز لري. کله چې يو انسان د ارواييي اغېزو په اړانه کې ګرېږي، همدا ګړېدا يې د بل پر اروا اغېز کوي، په دې توګه د ګړېدونکو يا ويناوالو ترمنځ د ژبې له لارې ارواييي اړيکي ټينګېږي يا ارواوې سره ترل کېږي.

## اخځونه


رغون – *اروا پوهنیزه ژبپوهنه*. (2020).
https://bit.ly/3WHtM0A

زيار، م. (۱۳۸۲). *پښتو پښويه (اپايځور: د ژبپوهنې بنسټونه او غړپوهنه)*. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

ښکلی، ا. (۱۴۰۱). *د ژبپوهنې نظريې*. *کابل*: پکتوس خپرندويه ټولنه.

Miakhil, B. (2024). https://www.facebook.com/story.php?story_fbid=935130954841330&id=100050333026595&mibextid=oFDknk&rdid=0usWhI2rx5ZLbw6B

Ratner, N. B., & Gleason, J. B. (2004). *Psycholinguistics*. In *Elsevier eBooks* (pp. 1199–1204). https://doi.org/10.1016/b978-008045046-9.01893-3

Typeset (N.D) *how Psycholinguistics defines Psychology. Retrieved 2024, March. 25, from https*://typeset.io/questions/how-does-psycholinguistics-define-psychology-21qnr3cik6

Wikipedia contributors. (2024). *Psycholinguistics.* Wikipedia. https://en.wikipedia.org/wiki/Psycholinguistics

کډوال، ش. م. (۱۴۰۰). د ژبپوهنې بنسټونه. لغمان: رهبر خپرندویه ټولنه.

Levelt, W. (2012). *A history of psycholinguistics.* https://doi.org/10.1093/acprof:oso/9780199653669.001.0001

Li, C. (2023). *The influences of psychology on linguistics change.* Lecture Notes in Education Psychology and Public Media, 27(1), 237–243. https://doi.org/10.54254/2753-7048/27/20231214